# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک


۲۷ نومبر ۲۰۱۶

## ځلورپنځوسم مجلس(دحشرپه باره کی تفکر)

### لومړی برخه

دجمعی په ورځ سهارد ۵۴۵کال دروژی دمیاشتی په لسمه ،شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:

(ای دخدای بنده) دوه گامه شتون لری، یو ددنیا په لوری اوبل دآخرت په لوری،یودنفس خواته اوبل دخالق خواته. دغه دظاهر گام پریږده، ترڅو دباطن گام ته ورسیږی. ته پیل وکړه اوپای ته رسیدو کی زیاروباسه، ترڅو خدای پاک هم ستا گامونه ترپایه ورسوی، پیل ستاڅخه، پایلی ته رسیدل له خدایه. داړتیا سبد اوزنبیل تیارکړه اودعمل په دروازه هستوګن شه چی هرکله دی په حقیقت عمل وکړ، قرب ته به ورسیږی. یوازی په ځای یک پریوتل اوپه ځان پسی دروازی تړل اودعمل سرته رسولوته سترگی په لاره کیدل دبری موجب نگرځی. زړه دخدای په یاد بوخت وساته، اودمرگ اوحساب اوکتاب ورځ مه هیره وه، دقبراوپه هغی په خاوروکیدوکی فکر وکړه، دهغی ورځی په یاد اوسه چی ټول خلک به ترحساب کتاب لاندی راشی، اوځرنگه به دخدای په وړاندی حاضریږی؟ که دغه تفکرات ادامه پیداکړی دزړه قساوت به پای ته ورسیږی، اوکدورت به یی په صفا اوروښنایی سره بدل شی.

هرکله که یوه مانی په پاخه بنسټ سره جوړه شی، مسلمابه پایداره وی، اوکه یی بنسټ سست و،نونړیدل یی یقینی دی. که دخپل وجود بنسټ دی دشرعی داحکاموسره کښیښود، نوپوه شه چی داسی مانی دی جوړه کړی، چی هیڅوک یی په وړانولو سره قادره ندی، اوکه دی په غیروبناء کړی، دوجود مانی به دی ونړیږی اوهیڅ مقام ته به هم ونه رسیږی، بلکه دصدیقینودقهراوخشم په وړاندی به هم قرارونیسی.

وای پرتا! حیرانی ده! آیا دین یوه لوبه اونیرنگ دی؟ ته کوم کرامت نلری اونیرنگ بازه یی، په ژبورتوب اوعوامفریبی دخلکوترمنځ دی ځان ښایسته ښوولی دی، په داسی حال کی چی هیڅ ډول ښایست نلری. دمشرتابه شایستگی یوازی په گوتوشمارصالحین لری اوته چی داسی نه یی نوښه به وی چی گنگ اوچپه خوله اوسی.

دمرشدوصالحینوځخه داسی کسان شتون لری چی وینا اوارشاد باندی ماموردی، ولی دوی په ډیره بی میلی اواکراه سره په خبروخوله خلاصوی، اودوی دی چی له وینا وروسته یی اخبارتحقق اوعینیت پیداکوی، اودباطن دصفاء سبب گرزی. یوله دغه صالحینوځخه دمومنانو امیرحضرت علی ابن ابی طالب(رضی الله تعالی عنه) دی چی فرمایلی دی:

(که دغیب پرده می له سترګولیری هم شی، زما په یقین به کوم څه اضافه نشی). اوبیایی فرمایلی: (زه هغه خدای چې ونګورم نه پرستش کوم،اوفرمایل به یې: زړه می ماته خدای راښئی).

ای دنادانانو ډلګی! دعلماو اودانشمندانو سره هم ناسته وکړی، ددوی خدمت وکړی، اوله محضرڅخه یې علم زده کړی. علم له مردانوڅخه باید زده شی. له علماوسره په حسن ادب اوپرته له اعتراضه اوخرده ګیری هم ناستی وکړی، ترڅویی له علمه بهره مندشی، اوددوی دوجود برکات ستاسودحال شامل هم شی. دعرفاو سره کښینی، ولی په خاموشی. اوله زاهدانوسره درغبت اومینی سره.

عارف انسان ګړی په ګړی خدای ته ورنیږدی کیږی، اوهره ګړی دخدای پروړاندی خشوع اوخضوع ډیریږی. ددوی خضوع په حضورکی ده نه په غیب کی، ځکه دوی تل ځانونه دحق پروړاندی حاضرګڼی.دخشوع زیادی اوډیروالی دقرب په مقدارپوری تړاولری، هرڅومره چې عارف خدای ته نیږدی وی، خاشعتره دی. اودعارف دژبی ګنګی دباطن په سترګو دحق دجمال په لیدوپوری تړاولری، اوهرڅومره چې دحق دمقام مشاهده ډیره وی ، په هماغه اندازه هغه ګنګ اولال وی. هرچاچی خدای وپیژانده دنفس اوطبع اوهوا اوعاداتوژبه یې لال کیږی، ولی دزړه ،باطن اومقام ژبه یې دهغو معنوی نعمتونو چې خدای پاک ورته اعطاکړی په شکرانه سره ناطقه ده، اوله همدی وجهی دی چې دوی خاموشی غوره کوی، ترڅوبهره مند شی،اودانس له شرابویی څکی ترڅویی زړونه دبشپړی پخوالی مرحلی ته ورسیږی.

هرچاچی له عارفانوسره ناسته وکړه، ځان به وپیژنی، اودخدای پروړاندی به ځان خواراوذلیل وګڼی، ددی اصل پربنسټ ویل شوی: (هرچاچی ځان وپیژانده ،خدای یې وپیژانده، اودده اوپروردګارترمنځ به حجابونه لیری شی). هرچاچی خدای وپیژانده دده پروړاندی به متواضع شی، اودخلکو پروړاندی به هم فروتن وی. هرچاچی ځان وپیژانده ، دخدای شکربه پرځای کړی، چې دغه معرفت یې ورته ارزانی فرمایلی، ځکه پرته له خدای څوک ددی موهبت په ورکړه قادره ندی، اوپوهیږی چې پاک خدای په دی امرکی ددنیا اوآخرت ښیګڼی ورته بخښلی دی.نوځکه ظاهریې په شکرمشغول دی اوباطن دحق په حمد اوثناسره ذاکره دی، ظاهریې پریشانه اوباطن یې مجموع، شادمانی یې په باطن اواندوه یې په ظاهرکی دیه. ولی عارف ددی حالت برعکس وی، اندوه یې په زړه کی اوښادی یې په څیره کی وی. اوهغه آګاه دی چې دحق په درګاه کی هستوګن دی، ولی نه پوهیږی چې څه پریکړه یې په هکله سره نیول کیږی، آیا دقبول وړ به وګرزی اویابه مردود وی؟آیا درحمت دروازه به ورته پرانیستل شی اویابه همداسی تړلی پاته شی؟

هرچاچی خپل نفس وپیژانده ،اوعارف شو،نوپه ټولو احوالاتوکی مومن دی. مومن دحال خاوند دی اوحال ګذرا، ولی عارف دداسی مقام خاوند دی چې تل ثابت وی.

مومن تل دخپل حال دبدلون اودایمان دزواله څخه په ویره کی دی، ښادی یې په څیره کی اواندوه یې په زړه کی ده. په ظاهره سره موسکاکوی اودزړه اندوه پټوی. ولی دعارف اندوه په څیره کی ده، ځکه هغه دخلکو سره دانذار(ویرولو) په حالت کی اورسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په نیابت دامربالمعروف اونهی عن المنکرسره له خلکو سره مخ کیږی.

دراستانوقوم په هغه څه چې اوریدلی یې دی دحق درضا لپاره عمل کوی، اعمال یې خالصانه دخدای لپاره دی، مواعظ پرته له واسطی په زړه سره اوری، اوپه دی حال کی دی چې له ځانه غیبت اودحق په یاد بیداری ورته حاصلیږی. هرکله که ستا زړه هم دی مرتبی اومقام ته ورسید، نوتل به له ځانه اوخلکوڅخه غافل اودحق په یاد بیداره وی، اګرکه په خلوت کی وی، په باطن سره په خلوت کی ،اوسِراوباطن ته به دی غیبی واردات توپی شی. سِربه زړه ته املاءکوی اوزړه هم مطمئنه نفس ته خبرورکوی، اونفس هم ژبه خبروی اوژبه هم دخلکو په ارشاد ماموره کیږی. هرڅوک چې

تردی قاعدی لاندی وتوانیږی چی له خلکو سره چلند وکړی اوله دوی سره تکلم وکړی، باید ددوی په ارشاد کی نورزیارهم وباسی، اوکه نه خاموشه دی وی.

دراستانوزړه بایلودیو دقوم لیونتوب، دطبیعی عاداتو اونفسانی افعالوترک، اوله شهواتو اولذایذوڅخه دوری اوکوری ده، نه دهغه لیونیانوپه څیر چی عقل یی له لاسه ورکړی دی. حسن بصری(دخدای درود دی وی پرده) ویلی:( هرکله که دوی وګوری داسی به وایی چی دوی لیونیان دی، اوهرکله که دوی تاسو وګوری نو وبه وایی: دغه خلک حتی یوه لحظه هم په خدای ایمان ندی راوړی).

ستا خلوت په درست بنسټ ندی، څکه رینتینی خلوت هغه دی چی په زړه سره له ټولو دنیوی تعلقاتوڅخه ترک تعلق وکړی، اوباطن دی په ټولیزه سره ددنیا اوآخرت له علاقی تش اوپرته دخدای پاک دذات څخه پکی هیڅ هم نوی.

اوداهغه لاره ده چی مخکی ترتا انبیاو اومرسلینو،اولیاو اوصالحینو په هغی ګامونه پورته کړی دی.

امرپه معروف اونهی له منکره زما پرنزد دزرو عابدانو له عبادت څخه په صومعه اویوازیتوب کی، بهتره اوباارزښتره دی.

له نفس څخه باید غافل نه اوسو، باید له آمال(هیلو) اوغوښتونو څخه کم کړو ترڅو دنابودی سبب ونګرزی، اوداسی مذهب شی چی ټل دزړه اوباطن تابع وګرزی، اودهغودواړو له رایی څخه سرغړونه ونکړی اوله هغوی سره یوشی، په هغه څه چی دته امرکوی غاړه کښیږدی، اوله هغه څه نه چی منع کوی یی، ډډه وکړی. په دی حال کی دی چی نفس مطمئنه حالت ته رسیږی، دزړه اوباطن سره به همغږی شی اوپه جمع سره به دیوه واحد هدف اوآرمان لپاره طالب وګرزی. هرکله که نفس دی حالت ته ورسید باید له هغی سره دمبارزی څخه ډډه وشی، څکه نوردحق پروړاندی تسلیم دی، اودهغه څه په باره کی چی دخدای غوښتنه اواراده ده ، دده په هکله ، مطیع اومنقاد اوسی.

(لَایُسْأَلَ عَمَّایَفْعَلُ وَهُمْ یُسْأَلُونَ).

له حق څخه ستا پیروی اومتابعت کوم دی؟ که دحسن ادب اورفتارخاوند نه یی، نو پوه شه چی په خواری به له دی دنیا څخه ولاړشی. اوکه حسن ادب ولری په کرامت اوبزرګواری به له دی سرایه ولاړشی. پوه شه چی دخدای دوستان دخدای میلمانه دی،اومیلمه په خوراک،څښاک اونورولوازموکی مداخله نکوی، بلکه هغه څه چی ورته دکورخاوند وړاندی کوی ، راضی اوخوښ دی. هرچاچی خدای وپیژانده ، له دنیا اوآخرته به مخ واړوی،اوپرته دحق له مینی به یی په زړه کی بل څه پاته نشی.

پرتا لازمه ده چی وینا دی دحق درضا په لوری وی، اوکه نه باید خاموشی غوره کړی، باید ژوندون دی دصالحه اعمالو په کسب اودخدای درضا په ترلاسه کولوکی وی اوکه نه مرګ درته بهتره دی.

**لویه خدایه، مونږپه خپل طاعت اوفرمانداری باندی ژوندی لره،اودطاعت داهل سره مو محشورکړه. آمین!**

اوبیا شیخ(رضی الله تعالی عنه) وفرمایل: مومن باید له خپل نفس څخه لیری شی، اودیوه بزرګ سره هم ناستی شی چی ورته علم زده کړی اوپه تأدیب کی یی زیاروباسی، باید له ماشومتوب څخه ترمرګ پوری دعلم په طلب کی اوسو. قاری لومړی دخدای کتاب یادوی، بیادرسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) قواعد اوسنت زده کوی، اوددی دوو دوستانو سره بری ورسره مل کیږی، هغه څه چی حفظ کړی یی دی قرائت کوی، اوپری عمل کوی، اوهغه څه چی یی زده کړی دخپلو کړواو وړو سرمشق یی ګرځوی، ترڅو په پایله کی دحق قرب ته ورسیږی، همداسی چی هغه په خپلو زده کړو عمل کوی، خدای به هم هغه څه ته چی دی نه پری پوهیږی، راهنمایی کړی، اوزړه به یی په اخلاص سره دخدای عزّوجلّ پروړاندی مقیم شی.

هرکله که عامل وی اومتوجه شوی چی زړه د دقرب مقام ته ندی رسیدلی اودعبادت اوانس خواږه دی ندی څکلی، پوه شه چی عمل دی صحیح ندی، اودهغه خلل په وجه چی په عمل کی دی شتون لری، محجوب گرځیدلی یی. ولی دغه خلل څه دی؟ریا،نفاق، خودخواهی، اوغروردی. ای عاقله! په تا لازمه ده چی په اخلاص کی زیاروباسی، اوکه نه ځان ته دی زحمت مه ورکوه، ځکه چی پرته له اخلاصه عمل پایلی ته نه رسیږی. پرتالازمه ده چی تل دحق ترمراقبت لاندی اوسی، څه په پټه اوڅه په ښکاره، ولی پوه شه چی ښکاره مراقبت اوپه جلوت کی، که له اخلاص سره مل نه وی، دمنافقینوکاردی. پټ مراقبت اوپه خلوت کی ، داخلاص سره ، دمخلصینو کاردی.

وای پرتا! هرکله که دیوه زیبامخی ولیده نو،دشهوت اودنفس دهوا سترگی وترله،اوپه یادراوړه چی عزّوجلّ خدای تاوینی،اووایه: « **وماتکون فی شأن** » له خدایه وډارشه، نامحرموته له کتوسترگی پټی کړه، اوخدای په یادراوړه چی له علم اونظرڅخه یی هیڅ شی پټ ندی.

هرکله که دی دحق دامرپه ترسره کولوکی منازعه ونکړه، هغه وخت دی چی عبودیت اوبندگی دی کمال ته رسیدلی، اودهغوخکلو په ډله کی به وی چی خدای یی په هکله فرمایلی : (**اِنَّ عِبَادِی لَیسَ لَکَ عَلَیْهِمْ سُلْطَانٌ**)-«هماغه تاته زماپربندگانوقدرت نشته. سوره حجر آیه ۴۲». اوهرکله که دی شکراوسپاس دحق پروړاندی ریښتینی شو، خدای به هم دخلکو زړونه ستا په وړاندی نرم اومهربانه کړی، اوژبی به یی ستا په ستاینه وگمارل شی، په دی حال کی به شیطان اودهغی اعوان او انصار په تاباندی لاس بری نشی.

ددعا ترک رخصت دی اوپه هغی اشتغال عزیمت، دعا دغرق شوی کس لپاره دتنفس په حکم ده، اودیوه زندانی لپاره هغه دریچه ده چی ښایی دهغی له لاری آزادی ته لاره ومومی، پس دعا هم دپادشاهانوپادشاه(خدای عزّوجلّ) ته یوه لاره ده.

هوښیاراوسی، تاسو ددعاپه ترک کولو سره له یوه نیک کاره لیری شوی یاست. اوپوه شی چی دعا اوغوښتنه باید په نیت اوعلم سره اودپوهانوپه پیروی ترسره کیږی. تاسو نه پوهیږی چی دخدای سره څه شی شتون لری، اونه پوهیږی چی دصالحو بندگانوسره څه شی شته، نو امکان لری چی په ظن اوگمان کی اوسی، اودغه ظن اوگمان تاسو خطاته وگوماری. پس په هرحال کی باید دځان په نسبت دخدای له غوښتنی سره په اعتراض خوله خلاصه نکړی. اوپوه شی چی صالحین په ټولو احوالاتوکی دحق دقدرت په لاسونوکی دی. نوترکومه چی یی دشرعی خلاف عمل ندی ترسره کړی، نباید په هغوی اعتراض ونیسی، اوپوه شی چی هیڅکله هم نباید دخدای له ویری غافله شی، همدا دغفلت نشتوالی دی چی دزړه دآرامش سبب گرځی.

ای دخدای ځمکنیوبندگانو، ای زاهدانو، آگاه اوسی اوهغه څه زده کړی چی له هغوی بی خبره یاست. زما مکتب ته راشی، ترڅوهغه څه چی پری خبرنه یاست درته زده کړم. زړه لره کتاب دی، باطن اواسرارو لره کتاب دی، نفس لره کتاب اوغړو اوجوارحولره کتاب دی، دغه عبادرت دی له درجاتو اومقاماتواومعدودو گامونو. که دی لومړی گام پورته نکړ، څرنگه به دوهم گام ته ورسیږی؟ که دسلامت درست نه و،څرنگه به یقین ته ورسیږی؟ که دکامل یقین ترلاسه نکړی، څرنگه به دمعرفت اوولایت مقام ته ورسیږی؟ پس هوښیاراوسه اوپوه شه چی کوم څه نه یی!

هریوله تاسوڅخه پرته له استحقاقه پرخلکو دریاست غوښتونکی یی، اونه پوهیږی چی دخلکو ریاست اورهبری وروسته له زهده اوله خلکواودنیا اونفس اوهوا اوپه اختیارکی له ارادی په لیری والی کی لاس ته راځی. دمعنوی مقاماتوتفویض(ورکړه) په الهی ارادی اومشیت پوری تړلی ده، نه ځمکنی عوام اونه هم دخلکو غوښتنه په هغی کی مداخله نلری.تل ځان تابع وبوله ته متبوع، ځان مصاحب وشمیره نه مصحوب، په ذل اوخواری اوگمنامی سره خوښ اوسه، اوکه دحق پروړاندی عزیز اوسرلوړی کیږی، دغه مقام به په خپل وخت درته خپله اعطا شی. لازمه ده چی

خدای ته تسلیم شی، اونفس خوشی کړی، لازمه ده چی دحق دامرپه امتثال کی زیاروباسی، اودمنهیاتوله ارتکاب څخه ډډه وکړی، اوپه آفاتواوبلاو صابره اوسی، اوپوه شه چی ددغه اعمالو بنسټ اوپایه توحید دی اوپ صالحه اعمالو ثبات اوپایداری. بنسټ باید پوخ وی، که دی نیت درست نه وی، څرنګه کولای شی تکلم وکړی؟ څرنګه کولای شی دپیغمبرانو په نیابت له خلکوسره خبری اتری وکړی؟ دوی دخلکو لاربښوونکی اوخطیبان و، اووروسته له دی چی نبوت دخدای په امر ختم شو، عامل علماء دهغوی ځای ناستی دی، پس هرڅوک چی غواړی دانبیاو دوارثانوپه ډله کی حساب شی، باید زیاروباسی چی دزمانی پاکترین خلک اوداناترین واوسی اوپه الهی احکامو او درسول اکرم( صلی الله علیه وسلم) په سنتوعالمترین وی. آیا تصورکوی چی دغه آسانه کاردی؟ ای په خدای ،په رسول اولیاو اوصالحینوباندی نادانه، ای دنفس ناشناختګانو، ای دنیا دارانوچی پرته له استحقاقه امرکوی، لال اوسی اوسکوت اختیارکړی، هغه چاچی علم یی پرنفس لاس بری شوی، باید دی کارونو ته لاس پوری کړی.پرنفس غالب علم دی چی ګټوردی، اوڅرنګه ګټورنه وی، پداسی حال کی چی خاوند یی پرخلکو دتکیی ټولی دروازی دځان پرووړاندی تړلی دی، اوباب اکبریعنی دحق درګاه یی مخ ته پرانیستی ده؟ هرکله که دغه باب اکبردبنده مخ ته پرانیستل شوه، هغه وخت دی چی معنوی خلعت اوغیبی نثارباندی به مفتخرشی، داسی وسایل به یی په واک ورکړل شی چی په هغوی سره به پوستکی لیری اوماغزه(معنی) به پریږدی، په هغوی به دشهواتو لاری وتړی، دحقیقت لاره به وپیژنی، اودحق اومراد په جاده کی به ګام پورته کړی، هغه جاده چی مخکی له دنه پری انبیاو اومرسلینو اواولیاو ګامونه پورته کړی.

داڅرنګه جاده ده؟ پرته له تیارو دصفا اوروښنایی جاده ده، پرته له شرک دتوحید جاده، پرته له منازعی داستسلام جاده، پرته له کذبه دصدق جاده، پرته دخلق نه دحق جاده، اوبالاخره دمسبب جاده پرته له سببه ده، داهغه جاده ده چی ددین آمرانو اودمعرفت سلاطینو اودحق مردانو اواصفیاو اونجباو اوددین ناصرانو اودخدای دوستانو پری ګامونه اوچت کړی دی. وای پرتا! ترڅرنګه ددغی جادی اوطریقی لاروی یی، په داسی حال کی چی ټوله تکیه دی پرځان اوخلکو ده؟ دمحکم اودرست ایمان خاوند نه یی، بیم اوامید دی خلکو ته دی، پس زاهد نه یی، عنایت دی دنیا ته دی، لذا توحید دی کامل ندی، عارف له دنیا اوآخرت څخه غریب دی، اوزاهد له الله څخه دماسوا سره پریکړون کړی اویوازی په لقاءالله سره بوخت دی.

(ای قومه) زما خبری واوری، اوزماپرووړاندی دتهمت ژبه مو لنده کړی. نه پوهیږم ولی اودڅه لپاره ما متهم کوی اوغیبت می کوی، په داسی حال کی چی زه ستاسو دوست اومهربانه دلسوزه یم، ستاسو دهدایت دروند بارمی قبول کړی اوداعمالو نواقص مو پوره کوم. له خدایه تل غواړم ترڅو ستاسو حسنات قبول کړی، اوله بدیو(سییاتو) موتیرشی. هرڅوک چی ما په بشپړه وپیژنی اوله زړه می خبرشی، ترمرګ پوری به له ما جلا نشی. خوراک ،څښاک اوجامی به زما په مصاحبت کی وګنی،ځکه زه له خدایه له غیره څخه بی نیازه یم.

(ای دخدای بنده) ولی زه درباندی ګران نه یم؟ زه تا ستا لپاره غواړم نه دځان لپاره، موخه می داده ترڅو تاددنیاپالنی دوژونکی دیوله منګلووژغورم، تاپوه کړم چی دنیا پالنه وژونکی اوغولوونکی دیو دی، ترڅوبه په هغی پسی روان یی؟ پوه شه چی ژربه درورسیږی اوهلاک به دی کړی.

خدای عزّوجلّ هیڅکله هم خپل دوستان یوه لحظه ددنیا په منګلوکی نه پریږدی، بلکه تل خپله دهغوی سره دی، اودوی له ده سره.ددغه ډول بندګانو زړونه تل دخدای په یاد بوخت دی، اوپه معلاء پیشګاه کی حاضردی، اوله غیرخدایه بیزاره، نوداخدای پاک دی چی ددوی دزړونو مونس دی.

**لویه خدایه، مونږدمخلصوبندګانوڅخه وګرزوی،اومونږ دنفس دهوا له ګزندڅخه وساتی،همداسی چی دوی دی ساتلی دی.**

**و«آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقناعذاب النار».**